مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۰ / ۰۸ / ۳۱

# د پنجاب بړیڅي

چي ګلو د پنجابي په تالي روږد شو(۱)
ګیله نه شي د ختکو له اورنګه
بیا د پیر او د حضرت نومونو څنګ کي
بې انصافي ده چې نوم نه اخلي له فرنګه
خلیلي که د ضیا په مدحه پریوت (۲)
په دې کار د رباني شمله شوه دنګه
پنجابي جهاد په نوم چې شول بناغلي
د دوی څه که د افغان خونه شوه ړنګه
جنګ او وینه تویول د دوی حرفه شوه
بې داړلو تمه نشته له پلنګه
غنیمت شهوت منځپانګه د جهاد شوه
په جهاد د مجاهد غوا شوله لنګه
د هغو به د جهاد ثمره څه وي
خپل پرتوګ چې بدلوي پنجاب په لنګه
تفاوت د مجاهد او طالب نه شته
غورځوي ملت په یو شان له ګړنګه
که ملت د ځنکندن په حال کي پروت دی
دوی به وانخلي هیڅکله پند له جنګه
زه شرمیږم پنجابي دښمن په وړاندې
چې د چا نومونه اخلم په بدرنګه
پینتنو کې یا پټی یا کوناټي وو
دوی له دواړو نه ورتیر شولو بې ننګه

**یادونه:**

(۱) ګلبدین ته اشاره ده

(۲) خلیل الله خلیلي د درې ژبې شاعر ته اشاره ده چې د پنجابي دیکتاتورضیاالحق په مړینه یي مرثیه لیکلي وه.

**شعروزمه خیالونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزی بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ